

# د بسم الله شریف برکتونه

پښتو


پیشکش:
مجلس المدینة العلمیة (دعوت اسلامی)
Islamic Research Center

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ؕ

# د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندې دُعا لولۍ اِنۡ شَآءَاللّٰه څه چې لولۍ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

اَللّٰهُمَّ افۡتَحۡ عَلَيۡنَا حِكۡمَتَكَ وَانۡشُرۡ عَلَيۡنَا رَحۡمَتَكَ يَا ذَاالۡجَلَالِ وَالۡاِكۡرَام

ترجمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او حِکمت دروازے برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج۱ ص۴۰ دار الفكر بيروت)

طالب غم
مدينه بقيع
ومغفرت

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولۍ)

د رسالے نوم: د بِسمِ الله شريف فضيلت

اول ځل: ..............

تعداد: ..............

ناشِر: مَکۡتَبَةُ الۡمَدِيۡنَه عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه کراچۍ.

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ کولو اجازت نشته

کتاب اخستونکي توجّه اوکړۍ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پانړې کمې وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلې وي نو مَکۡتَبَةُ الۡمَدِيۡنَه ته رجوع اوکړۍ.

www.dawateislami.net

# د بِسمِ اللّٰه شريف برکتونه

د **دعوتِ اسلامي مجلِس** **اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة** دا رِساله ”بسم اللہ شریف کی برکتیں“ په اردو ژبه کښې ليکلې ده.

**مجلِسِ تراجِم** (دعوتِ اسلامي) د دې رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمے، زياتے اومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چې **مجلس تراجِم** ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش:

## مجلِسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

## د بِسۡمِ اللّٰہ شريف برکتونه

**دُعائے عطّار:** يا ربّ مصطفٰی! خوك چې دا رِساله ”**د بِسۡمِ اللّٰہ شريف برکتونه**“ اولولي يا ئې واوري هغه ته د هر داسې کار نه محکښې چې هلته وئيل منع نه وي د بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ وئيلو سعادت نصيب کړې او د هغه نه هميشه هميشه د پاره راضي شې او د هغه بے حسابه بخښنه اوکړې۔ اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرود شريف فضيلت

د **الله** پاک آخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: چا چې په ما باندې سل (100) ځله دُرُود شريف اُووئيلو، **الله** پاک د هغه د دواړو سترګو تر مينځه اوليکي چې دا د نِفاق او د جَهنّم د اور نه آزاد دے او هغه به د قيامت په ورځ د **شهيدانو** سره ساتي۔

(مَجۡمَعُ الزَّوائِد ۱۰/۲۵۳ حديث ۱۷۲۹۸)

مشکلیں اُن کی حل ہوئیں، قسمتیں اُن کی کھل گئیں
وِرد جنہوں نے کر لیا صَلِّ عَلٰی مُحَمَّد

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## عذاب نه د حفاظت حِکايت

د فِقه حَنَفِي په مشهور کتاب ”**دُرِّ مُختار**“ کښې دي، يو کس د مړ کيدلو نه مخکښې دا وَصِيَّت اوکړو چې د وفات کيدلو نه پس زما په سِينه او تَندي باندې بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

اولیکئ- چنانچه هُم دغسې اوکړے شو- بیا چا په خوب کښې هغه کس اولیدو او د حال تپوس ئې ترینه اوکړو- هغه اُووئیل: چې کله زه په قبر کښې کیښودلے شوم نو د عذاب فرښتے راغلې، چې زما په تندي ئې بِسْمِ الله شریف لیکلي اولیدله نو اُوئې وئیل: ته د عذاب نه بچ شوې! (در المُختار معه رَدُّالْمُحتَار کتاب الصلوٰۃ ج۳ ص۱۵۶)

## کفن باندې د لیکلو طریقه

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! چې هر مسلمان وفات شي نو بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ورله ضرور لیکئ- ستاسو لره شان تَوَجُّه د مړي عاجز د بخښنې ذریعه جوړیدے شي او مړي سره د همدردئ نیکي ستاسو د پاره هُم د بخښنې ذریعه جوړیدے شي- حضرت عَلّامه شامي رَحْمَۃُاللهِ عَلَیْه فرمائي: داسې هُم کیدے شي چې د مړي په تندي باندې بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ اولیکئ او په سینه ئې لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اولیکئ- خو د لـمبولو نه پس او د کفن ور اغوستلو نه مخکښې ئې د شهادت په ګوته اولیکئ، په سیاهي ئې مه لیکئ- (دُرِّمُختار ج۳ ص۱۵۷) شجره یا عَهدنامه په قبر کښې کیښودل جائز دي او بهتره دا ده چې د مړي مخ ته مخامخ د قبلے طرف ته تاخ اوکنئ او په هغې کښې ئې کیږدئ بلکه ''دُرِّمُختار'' کښې ئې په کفن کښې عهد نامه کیښودل جائز لیکلي دي او فرمائیلي ئې دي چې د دې په وجه د بخښنې اُمِّید دې- (بهارِشریعت حصه ۴ ص ۱۰۸)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بِسْمِ الله شریف فضیلت

صحابي اِبنِ صحابي حضرت عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا د نبیِّ کریم رَءُوْفٌ رَّحِیْم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ (د فضیلت) په باره کښې تپوس اوکړو: نو د الله پاک محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: دا د الله پاک د نومونو نه یو نوم دے او د الله پاک د اِسمِ اعظم او د دې په مینځ

كنبې داسې قُرب (يعني نزديكت) دے څنګه چې د سترګې د تور والي (يعني تور ګاټي) او سپين والي په مينځ كنبې۔ (اَلْمُسْتَدْرَك لِلْحَاكم ج۲ ص۲۵۰ حديث۲۰۷۱)

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د ''اِسمِ اعظم'' ډير بركتونه دي، اِسمِ اعظم سره چې څه دُعا اوكړے شي هغه قبليږي۔ د اعلٰى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه والِدِ مُحترم رئيسُ الْمُتَكَلِّمِيْن مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: بعضې عُلَماء بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ته اِسمِ اعظم وئيلے دے۔ پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه منقول دي: بِسْمِ الله د عارِف (يعني د الله پاک د پيژندګلو لرونكي) د خُلې نه داسې ده لكه د كلامِ خالِق نه ''كُن''۔ (يعني اُوشَه) (اَحْسَنُ الْوِعاء ص۲۲)

## نيمګړے كار

حُضُور مكّي مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: ''كوم يو اَهم [يعني ضروري] كار هُم چې بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم سره شروع نه كړے شي، هغه نيمګړے پاتې كيږي.'' (اَلدُّرُّ الْمَنْثُور ج۱ ص۲۲)

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! په خپلو نيكو او جائزو كارونو كنبې بَرَكت داخلولو د پاره مونږ ته مخكنبې بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ضرور لوستل پكار دي- خوراك كولو او په بل د خوړلو، د څښلو او په بل د څښلو، د كپبنودلو او پورته كولو، د وينځلو او پخولو ، د لوستلو او وئيلو، د تللو او (ګاډي وغيره) چلولو، پاڅيدلو او پاڅَولو، كښيناستلو او كښينولو، د بلب بلَوَلو، د پكي چلولو، د دسترخوان غوړوَلو، د بسترے غونډوَلو او خورَوَلو، د دُكان بيرته كولو، د جرندے [يعني تالے] لګولو او بيرته ګولو، د تيلو او عطرو لګولو، د بيان ګولو او نعت شريف وئيلو، د پيزار په پښو ګولو او عِمامه په سر كوَلو، د دروازے بيرته كولو او بندوَلو، غرض دا چې د هر جائز كار په شروع كنبې (چې كله شرعاً منع نه وي) د بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم وئيلو عادت جوړول او د دې بَرَكتونه حاصلول ډير لوئي سعادت دے.

تو ابدی ہے تو ازلی ہے تیرا نام علیم و علی ہے ذات تری سب سے برتر ہے یا اللّٰہُ یا اللّٰہُ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ”بِسْمِ الله“ نه د قرآنِ کریم شروع کولو وجه

حضرت عَلَّامه اَحمد صاوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د قرآنِ کریم شروع د بِسْمِ الله نه ځکه اوکړے شوه چې د الله پاک بندګان د دې پیروي اوکړي او هر ښه کار د ”بِسْمِ الله“ نه شروع کوي۔ (صاوی، الفاتحه، ج۱ص۱۵) او په حدیثِ پاک کښې هُم د (ښه او) اَهَم کار شروع د ”بِسْمِ الله“ نه د کولو ترغیب ورکړے شوے دے۔

## بِسْمِ الله نه د کار شروع کولو وجه

کُفَّارِ عرب به خپل هر کار د خپلو دروغو د خُدایانو د نومونو اخستلو نه شروع کولو، لِهذا ضروري شوه چې مسلمانان دِ خپل هر [جائز] کار د الله پاک د نوم نه شروع کوي چې د کُفَّارو مخالفت ظا هر شي او د دې نه دا هُم معلومه شوه چې د مسلمان هر کار د کُفارو خلاف کیدل پکار دي، هغوئي سره مُشابَهَت [یعني یو شان والے] او مَحَبَّت ډیر بد خیز دے۔ (تفسیرِ نعیمی، ج۱، ص۲۹ ملتقطاً بتغیر قلیل)

چھوڑ دے سارے غلط رسم و رواج سنتوں پر چلنے کا کر عہد آج
خوب کر ذکرِ خدا و مصطفٰے دل مدینہ یاد سے اُن کی بنا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## اَعُوْذُ بِالله د بِسْمِ الله نه مخکښې ولې وائي

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په ”اَعُوْذُ بِالله“ کښې د بدو عقائدو او بدو اعمالو نه منع ده او په ”بِسْمِ الله“ وَئیلو کښې د رَب له طرفه د ښو عَقائدو او ښُو عَمَلُونو وغیره حاصِلوَل دي نو داسې شوه چې (اَعُوْذُ بِالله) د پرهیز د پاره شوه (یعني بِسْمِ الله

علاج دے) او پرهيز کوَل په علاج باندې مُقَدَّم (يعني مخکښې دي) اول بيماري لرې کړئ، بيا مُقَوِّيات [يعني د طاقت څيزونه] استعمالوئ لهٰذا اَعُوْذُبِالله مخکښې لولئ او بِسۡمِ الله ورُوسته.
(تفسيرِ نعيمي۸۹، ملتقطاً بتغير قليل)

## ژبه به د سوَزيدلو نه محفوظه وِي

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! غِيبتونو او ګُناهونو سره خپله واسِطه خَتمه کړئ او د الله پاك ډير ډير ذِکر کوئ او د خوږ پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعمتونه وائې، خپله ژبه د ډير زيات درود شريف وئيلو د پاره اِستعمالوئ، د قرآنِ پاك ډير ډير تلاوت کوئ او د ډيرو ثوابونو خزانے حاصلوئ. چنانچه په ”رُوحُ البَيان“ کښې دا حديثِ قُدسي دے: چا چې يو ځل بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ د اَلۡحَمۡدُ شريف سره يو ځائے اُولوستله (يعني بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ د سُورت د آخرې پورې) تاسو ګواه شئ چې ما د هغه بخَښنه اُوکړه، او د هغه ټولې نيکئ مې قبولې کړې او د هغه ګناهونه مې معاف کړل او د هغه ژبه به هيڅ کله نه سوزووم او هغه ته به د عذابِ قبر، د اور د عذاب، او د قيامت د عذاب او د غټې ويرې نه نجات ورکووم.
(تفسيرِ روح البيان ج۱ ص۹) د يو ځائے وئيلو نوره واضحه طريقه اوګورئ : بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ۔ اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ سورت [د آخرې پورې] پوره اولولئ.

رہائی مجھ کو ملے کاش! نفس وشیطاں سے — ترے حبیب کا دیتا ہوں واسطہ یارب
گناہ بے عدد اور جُرم بھی ہیں لاتعداد — کر عفو سہہ نہ سکوں گا کوئی سزا یارب

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد
تُوۡبُوۡا اِلَى الله! اَسۡتَغۡفِرُ الله
صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## درې زَرَه نومُونه

منقول دي چې د الله پاك درې زره نُومُونه دي زَر نومونه د فرِښتو نه علاوه هيڅ چا ته نه

دي معلوم او يو زَر نومونه د انبيائے كرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام نه سِوا بل چا ته نه دي معلوم او درې سوه نومونه په تَورات، درې سوه په اِنجيل، درې سوه په زبور كښې دي او **۹۹** نُومونه په قرآنِ كريم كښې دي او يو نوم هُغه دے چې هغه صرف **الله** پاك ته معلوم دے. خو په بِسۡمِ الله كښې چې د رَبِّ كريم كوم درې نومونه دي (الله، رحمٰن او رحيم) په دې درِې [نومونو] كښې د هغه درې زره نومونو معنے موجودې دي لهٰذا چا چې په دې درې نومونو د **الله** پاك ذِكر اوكړو، نو داسې شوه لكه هغه چې په ټولو نُومونو د **هغه** ذِكر اوكړو. (تفسيرِ نعيمي۴۱)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## "د بِسمِ الله بركات" د ديارَلسو حروفو په نِسبت د بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ديارَلس مدني گلونه

﴿۱﴾ حضرت سيدنا احمد بن علي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په شمسُ المَعارِف كښې په صفحه نمبر 37 كښې ليكي: څوك چې هره ورځ بے ناغه ووه [7] ورځې "بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ" 786 ځله اُووَائي (مخكښې وروُستو يو ځَل دُرود شريف) اِنۡ شَآءَالله د هغه به هر حاجت پوره شي. كه هغه حاجت د څه خير حاصلولو وي يا كه د څه مُصِيبت لرې كولو وي يا د كاروبار چليدلو وي. (شمس المعارف (مترجم)، ص۳۷)

﴿۲﴾ څوك چې د يو ظالم په مخكښې بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ 50 ځله اُووَائي (مخكښې وروستو يو ځل درود شريف) نو د هغه ظالِم په زړه كښې به د دې وئيونكي هَيبت پيدا شي او د هغه د شَر نه به بچ اوسي. (ايضاً ص۳۷)

﴿۳﴾ څوك چې د نمَر ختو په وخت كښې نمر طرف ته مخ كړي او درې سوه ځله بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ او درې سوه ځله دُرُود شريف اُووَائي **الله** پاك به هغه ته د داسې ځائے نه رِزق وَركوي چې د هغه ځائے نه به د هغه گمان هم نه وي (هره ورځ وئيلو سره) اِنۡ شَآءَالله په يو كال كښې دننه به اَمِير و كَبِير (يعني ډير مالدار به) شي. (ايضاً ص۳۷)

﴿۴﴾ کمزورې ذهن والا که "بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ" 786 ځله اُووَائِي (اوّل آخر درود شريف يو يو ځل) او اُوبه پرې دَم کړي او اُوئې څښبي نو اِنۡ شَـآءَاللّٰه حافِظه به ئې قوي شي او چې کومه خبره اَورِي نو ياده به ئې پاتې کيږي. (ايضاًص٣٧)

﴿۵﴾ که د قَحط په دَور کښې "بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ" 61 ځله (اوّل آخر يو ځل درود شريف) اُووَئي (او بيا دعا اوکړي) "نو اِنۡ شَـآءَاللّٰه باران به اوشي. (ايضاًص٣٧)

﴿۶،۷﴾ که "بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ" 35 ځله (اوّل آخر يو ځل درود شريف) څوك اُوليکي او په کور کښې ئې زوړند کړي اِنۡ شَـآءَاللّٰه د شيطان لاره به بنده شي او ډير برکت به اوشي. او که دوکان کښې ئې زوړند کړي نو اِنۡ شَـآءَاللّٰه کاروبار به ډير ښه شي. (ايضاًص٣٧)

﴿۸﴾ د مُحَرَّمُ الۡحَرَام په يڪم تاريخ باندې چې څوك "بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ" 130 ځله اُوليکي او ځان سره ئې کيږدي (يا ئې پلاستك کوټنګ کړي او په کپړه، ريګزين يا څرمن کښې ئې اوګنډي او [غاړې يا مټ ته] ئې واچوي) اِنۡ شَـآءَاللّٰه ټول عُمر به هغه ته يا د هغه په کور کښې چا ته هيڅ نقصان نه رَسيږي. (ايضاًص٣٧)

**مسئله:** د سرو زرو يا سپينو زرو يا د هرې اوسپنې په ډبې کښې تعويذ اچول د نارينه د پاره جائِز نه دي. هُم دغسې د هرې اوسپنې زنځير که په هغې کښې تعويذ وي او که نه وي، د نارينه د پاره اچول ناجائِزه او ګناه ده. هُم دغسې د سرو زرو، سپينو زرو يا د سټيلو وغيره د هرې اوسپنې تختئ يا کړه [يعني بنګړے] که په هغې څه ليکلي وي او که نه، اګر که د الله پاك مبارك نوم يا کَلِمه طيبه وغيره پرې [د څه تيره څيز په ذريعه] خخه ليکلې شوي وي د هغې اچول د نارينه د پاره ناجائزه دي. زنانه د سرو او سپينو زرو ډبې کښې تعويذ اچولے شي.

﴿۹﴾ چې د کومې زنانه بچي ژوندي نه پاتې کيږي نو هغه دِ "بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ" 61 ځله اُولِيکي او ځان سره دِ ئې کيږدي (که اوغواړي نو په څرمَن يا پلاسټك يا بل څه کښې دِ ئې کوټنګ کړي او په غاړه يا په مټ دِ ئې اُوتړي.) اِنۡ شَـآءَاللّٰه بچي به ئې ژوَندي پاتې کيږي. (ايضاًص٣٧)

﴿۱۰﴾ د كور دروازه بندولو وخت كښې "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم" لوستل ياد ساتئ، شيطان (او سركشه پيريان) به كور ته نه شي داخليدے. (ماخوذاً صحيح الْبُخاری ج، ص، حديث)

﴿﴾ د شپے د خوراك څښاك په لوښو بِسمِ الله شريف لوَلئ او سرونه پرې كړدئ، كه د پټولو د پاره څه څيز نه وي نو "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم" لوَلئ او د لوښي په خُله ډكے [چخچے] وغيره كيږدئ. (اَيضاً)

د مُسلِم شريف په رِوايت كښې دي چې، په كال كښې يوه شپه داسې راځي چې په هغې كښې وَبا راكوزيږي، كوم لوښے چې پټ نه وي يا د مَشك خُله تړلې نه وي، كه په هغه ځائے هغه وَبا تيريږي نو هغې ته وركوزيږي. (صحيح مُسلِم ص، حديث)

﴿﴾ د اوده كيدو نه مخكښې "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم" اولولئ او درې ځله بِستره اوڅنډئ اِنْ شَآءَاللّٰه تَعَالٰی د مُوذِياتو (يعني ضررې څيزونو) نه به په امان كښې اوسئ.

﴿۱۳﴾ كاروبار كښې د جائِز لين دين په وخت كښې يعني چې كله د چا نه څه اخلئ نو "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم" لوَلئ او چې كله چا ته څه وركوئ نو "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم" لوَلئ. اِنْ شَآءَاللّٰه تَعَالٰی بنه بَرَكت به كيږي.

يا رَبِّ مُصطفٰی! مونږه د "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم" په بَرَكتونو مالا مال كړې او د هر نيك او جائز كار په شروع كښې د "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم" لوستلو توفيق راكړې. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

جو ہے غافل ترے ذِکر سے ذُو الجلال     اُس کی غفلت ہے اُس پر وَبال و نَکال
تعرِ غفلت سے ہم کو خُدایا نکال     ہم ہوں ذاکِر ترے اور تُو مذکُور

## د طعام حساب به نه كيږي

د نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مُبارك دے: خوک چې د طعام په هره نُوړَئ بِسمِ

الله لولي، په ورځ د قیامت به هغه نه د هغه طعام حساب نه اخستے کیږي. (بستان العارفين للسمرقندي، ص٤)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د "كَعْبَةُ الله" د آته حُرُوفو په نِسبت د بِسمِ الله شریف ۸ وَظائِف

### ﴿۱﴾ د کور د حفاظت د پاره

**حضرتِ** سیِّدُنا اِمام فخرُ الدِّین رازي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: "چا چې د خپل کور په بهرنۍ دروازه بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم اولیکله هغه (صرف په دُنیا کښې) د هلاکت نه بے ویرې شو اګر که کافِر وي، نو د هغه مسلمان به څه حال وي چا چې ټول عُمر دا په خپل زړه باندې لیکلې وي." (تفسیرِ کبیر جلد اوّل ص۱۵۲)

### ﴿۲﴾ د سر د درد عِلاج

قیصرِ رُوم اَمیرُ الْمُؤمِنِین حضرتِ سیِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْه ته خط اولیکلو چې ما ته د دائمي **سر درد** شکایت دے، که تاسو سره د دې علاج وي نو را اوئے لیږئ! حضرتِ سیِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْه هغه ته یوه ټوپۍ ور اولیږله، قیصرِ رُوم به چې هغه ټوپۍ په سر کړه نو د **سر درد** به ئې ښه شو او چې کله به ئې لرې کړه نو بیرته به ئې **په سر درد** شو. هغه ډیر **حیران** شو، آخر دا چې هغه، هغه خوَلۍ ټوپۍ اوسپړدله نو په هغې کښې یو کاغذ را اووتو او په هغې بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم لیکلې شوې وه. (اسرار الفاتحه، ص۱۶۳، تفسیرِ کبیر جلد اوّل ص۵)

دردِ دِل کر مجھے عطا یارب دے مرے درد کی دَوا یارب

## ﴿۳﴾ د پوزې ماتيدلو علاج

که د چا پوزه ماته شي او وِينه بهيدل ترينه شروع شي نو د شهادت په ګوته دِ د تندي نه بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ليکل شروع کړي او د پوزې په آخِره دِ ئې ختم کړي. اِنْ شَآءَاللّٰه تَعَالٰی وِينه به بنده شي.

## ﴿۴﴾ د پيريانو نه د سامان د حِفاظت طريقه

حضرت سَيِّدُنا صَفوان بن سُلَيم رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: ”چې د انسان سامان وغيره او د اغُوستلو ثيزونه پيريان اِستعمالوي. نو پکار ده چې کله په تاسو کښې څوك خپلې جامې اغوندي يا اوباسي نو ”بِسْمِ الله شريف“ [يعني بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم] دِ لوَلي. د دې د پاره د الله تَعَالٰی نوم مُهر دے.“ (يعني چې بِسْمِ الله پرې اووئيله شي نو پيريان به هغه جامې نه استعمالوي) (كِتَابُ العَظَمَةِ الحديث، ص)

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! دغه رنګ د هر څيز د کيښودلو په وخت کښې بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم وئيل خپل عادت جوړول پکار دي. اِنْ شَآءَاللهُ تعالٰی د وران کارو پيريانو د ضرر نه به حفاظت حاصل شي.

## ﴿۵﴾ د دُښمنئ ختمولو وظيفه

که په اوبو ۷۸۶ ځله بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم اولولئ او په مُخَالِف (يعني دُښمن) ئې اوڅښئ نو اِنْ شَآءَاللّٰه تَعَالٰی هغه به مخالفت پريږدي او محبَّت کول به شروع کړي او که په مُوَافِق (يعني دوست) باندې ئې اوڅښئ نو محبَّت به زيات شي. (جَنّتي زيور ص)

## ﴿۶﴾ د مرض نه د شِفا وظيفه

په کوم درد يا مرض چې درې ورځو پورې سل ځله بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم د زړه په حاضرئ سره اولولئ او پرې دَم ئې کړئ نو اِنْ شَآءَاللّٰه تَعَالٰی د هغې نه به آرام راشي. (جَنّتي زيور ص)

## ﴿۷﴾ د غل او ناځاپه مرګ نه د حِفاظت د پاره

که د شپے د اُوده کيدو په وخت کښې۲ ځله بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ اولولئ نو اِنۡ شَآءَ اللّٰه تَعَالٰی مال او سامان به مو د غلا نه **محفوظه** اوسي او ناځاپه مرګ نه به مو هُم **حِفاظت** کيږي. (جَنَّتی زیور ص)

## ﴿۸﴾ د آفتونو لرې کيدلو آسانه وظيفه

د حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجۡهَهُ الۡكَرِيۡم نه رِوايت دے چې د مدينے تاجدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: اے علي! (كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجۡهَهُ الۡكَرِيۡم) [آيا] زه تا ته داسې کَلِمات اُونه ښايم چې هغه ته د مصيبت په وخت کښې لوَلې.“ عرض ئې اوکړو: ”ضرور اِرشاد اوفرمائې! په تاسو صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِ زما ځان قُربان وي! ټولې ښيګړې ما هُم ستاسو نه زده کړې دي.“ ارشاد ئې اوفرمائيلو: کله چې ته په کوم يو مشکل کښې اونښلې نو داسې لوله: بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ وَلَا حَوۡلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الۡعَلِيِّ الۡعَظِيۡمِ پس **الله** تعالٰى به د دې په بَرَکت چې کومې بلاګانې [يعني مصيبتونه] غواړې لرې به ئې کړې.“ (عَمَلُ الۡيَوۡمِ وَاللَّيۡلَةِ لِابۡنِ سُنِّي ص)

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! چې کله هُم درته بيمارې، قرضدارې، مُقَدَّمه بازې، د دُښمن له طرفه تکليف، بے روزګارې يا هر قِسم ناځاپه آفت پيښ شي، که څه څيز مو ورك شي، که د چا په خبره غمژن شئ، که ځوك مو اووهي، که زړه مو خفه شي، که ټوکر اوخورئ، که ګاډے مو خراب شي، که ټريفك جام شي، که په کاروبار کښې نقصان اوکړئ، که غلا درنه اوشي، الغرض که وړه يا غټه هره يوه پريشاني درپيښه شي نو د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ وَلَا حَوۡلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الۡعَلِيِّ الۡعَظِيۡمِ لوستلو عادت جوړ کړئ. که نِيَّت مو صفا وو نو اِنۡ شَآءَ اللّٰه تَعَالٰی منزِل به آسان شي.

عفو فرما خطائیں مری اے عفو شوق و توفیق نیکی کا دے مجھ کو تُو
جاری دِل کر کہ ہر دَم رہے ذِکر ہو عادتِ بد بدل، اور کر نیک خُو

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب!　　صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ”مغفرت“ د پينځه حُروفو په نِسبت

## د اِستِغفار کولو پينځه فضائل

### ﴿۱﴾ د زړونو د زَنګ صفائي

خادِمِ نبی، **حضرتِ** سيِّدُنا اَنَـس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دے چې **خَاتَمُ النَّبِيِّن، رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِين** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: بيشکه زړونه هم د اوسپنې په شان زنګ نِيسي او د دې جِلاء (يعني صفائی) اِستِغفار کول دي. (مَجْمَعُ الزَّوَائِد ج، ص حديث)

### ﴿۲﴾ د پريشانئ او تنګئ نه خلاصے

صحابی اِبنِ صحابی جَنَّتی اِبنِ جَنَّتی **حضرتِ** سيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عبَّاس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې د **الله** پاک خوږ **محبوب** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: چا چې **اِستِغفار** په ځان لازِم کړو **الله** پاک به د هغه هره پريشاني لرې کړي او د هرې تنګئ نه به راحَت ورکوي او هغه ته به د داسې ځائے نه رزق ورکوي د کوم ځائے نه به چې د هغه ګُمان هم نه وي. (سُنَنِ اِبنِ ماجه ج ص، حديث)

### ﴿۳﴾ د خوشحالولو والا اعمال نامه

د **حضرتِ** سيِّدُنا زُبير بن عوام رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دے چې د نبيِّ اکرم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: څوك چې دا خبره خوښوي چې د هغه اعمال نامه هغه خوشحاله کړي نو هغه ته پکار دي چې په هغې کښې د **اِستِغفار** اِضافه اوکړي. (مَجْمَعُ الزَّوَائِد ج، ص، حديث)

## ﴿۴﴾ خوشخبري!

حضرتِ سيِّدُنا عبدُالله بِن بُشر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي چې ما د شَهَنشاهِ مدينه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوريدلے دے: خوشخبري ده د هغه د پاره خوك چې په خپله اعمال نامه کښې دِاِستِغفار کثرت اُومومي. (سُنَنِ اِبْنِ ماجه ج [illegible]، ص [illegible] حديث [illegible])

## ﴿۵﴾ د سَيِّدُالْاِستِغفار لوستلو والا د پاره د جنَّت زيرے

د **حضرتِ** سيِّدُنا شَدَّاد بِن اَوس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دے چې **خَاتَمُ النَّبِيِّين رَحمَةٌ لِّلعٰلَمِين** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي چې دا سَيِّدُالْاِستِغفار دے:

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ رَبِّیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ خَلَقْتَنِیْ وَاَنَا عَبْدُكَ وَاَنَا عَلٰی عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ اَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ اَبُوْءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَیَّ وَاَبُوْءُ بِذَنْبِیْ فَاغْفِرْلِیْ فَاِنَّهٗ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اَنْتَ

تَرجَمَه: "اے الله! عَزَّوَجَلَّ ته زما رب ئې، ستا نه سِوا هيڅ خوك د عبادت لائق نشته، زه تا پيدا كړے يم، زه ستا بنده يم او په قدر د طاقت ستا په عهد او وعده قائم يم، زه د خپلو كړو د شر نه ستا پناه غواړم. اقرار كووم ستا د نِعمت كوم چې په ما دے او د خپلو ګناهونو اِقرار كووم، ما اوبخښې ځكه چې له تا نه سِوا هيڅ خوك ګناهونه نه شي بخښلے."

چا چې دا د ورځې په وخت كښې د اِيمان او يقين سره اولوستو او بيا په هم هغه ورځ د ماښام كيدو نه مخكښې هغه وفات شو نو هغه جَنَّتي دے او چا چې د شپے په وخت كښې دا د اِيمان او يقين سره اولوستو بيا د سحر كيدو نه مخكښې هغه وفات شو نو هغه جَنَّتي دے.

(صحيح اُلبُخارى ج [illegible]، ص [illegible]، حديث [illegible])

## د "بِسمِ الله" يو څو شرعي مسائل

علمائے كرامو د "بِسمِ الله" متعلق ډير شرعي مسائل بيان كړي دي د هغې نه څه دا دي:

(1) كومه "بِسمِ الله" چې د سورة په شروع كښې ليكلي شوي وي، دا پوره يو آيت دے او كومه

چې په ”سورۃُ النَّمل“ کښې آیت نمبر 30 کښې ده هغه د آیت حصه ده.

(2) ”بِسمِ الله“ د هر سورة په شروع کښې آیت نه دے بلکه د قرآنِ پاك یو آیت دې چې د هر سورة په شروع کښې اولیکلے شو د دې د پاره چې د دوو سورتونو په مینځ کښې فرق راشي، په دې وجه د سورة نه مخکښې په امتیازي شان سره ”بِسمِ الله“ لیکلے شي د آیت په شان یو ځائے ئې نه لیکي او امام په جهري لمونځونو کښې (یعني هغه لمونځونه چې امام پکښې په اوچت اواز قراءَت کوي.) ”بِسمِ الله“ په اوچت آواز سره نه وائي، او جبرئیل چې کله اولنئ وحي نازله کړه نو په هغې کښې ”بِسمِ الله“ نه وه.

د تراویح په لمونځ کښې [د قرآنِ پاک ختم] کوونکي له پکار دي چې د یو رکعت په شروع کښې ”بِسمِ الله“ په اوچت آواز اووائي د دې دپاره چې یو آیت پاتې نه شي.

د تلاوت شروع کولو نه مخکښې اَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم وئیل سنّت دي، که شاګرد د اُستاد نه قرانِ پاك وائي نو د هغه دپاره وئیل سنّت نه دي. (صراط الجنان،1)

## ”بِسْمِ الله کړئ“ داسې وئیل ممنوع دي

بعضې خلق داسې وائي: ”بِسْمِ الله اوکړه!“ ”راځئ جي بِسْمِ الله!“ ”ما بِسْمِ الله اوکړه.“ سوداګر خلق چې اوله سودا په ورځ کښې کوي هغے ته عموماً ”بَوني“ وائي خو بعضې خلق دغې ته هم ” بِسْمِ الله“ وائي مثلاً ”زما خو نن تر اوسه بِسْمِ الله نه ده شوې،“ د کومو جُملو مثالونه چې وړاندې کړے شو دا ټولې غَلَطې دي. دغه رنګ که د طعام خوړلو په وخت کښې څوك راشي نو اکثر طعام ته ناست کس هغه ته وائي راځه ته هم اوخوره، نو عام طور داسې جواب ورکول شي، ”بِسْمِ الله“ یا داسې وائي: ”بِسْمِ الله اوکړئ.“ بهارِ شریعت جلد 3 حصه 16صفحه 379 کښې دي چې ”په دې موقع داسې بِسْمِ الله وئیل علماؤ سخت منع کړي دي.“ خو داسې وئیلے شي چې، بِسْمِ الله اووائې او خورئ. بلکه په داسې موقع دُعائیه جُمله

وئيل بهتر دي مثلاً بَارَكَ اللهُ لَنَا وَلَكُمْ يعني الله تعالیٰ دِ مونږه او تاسو ته بَرَکت راکړي. يا دِ ئې په خپله مورنۍ ژبه کښې وائي چې، الله تعالیٰ دِ تاسو ته بَرَکت درکړي.

## بسم الله وَئيل کله سُنّت دي

اے عاشقانِ رسُول! د هَر اَهَم کار لکه خوراک څښاک وغيره په شروع کښې "بِسْمِ الله" وئيل سُنَّت دِي او په لـمانځه کښې د سُوْرَةُ الْفَاتِحَه او سورت په مينځ کښې، او د کښيناستلو او پاڅيدلو په وخت کښې "بِسْمِ الله" وَئيل جائز او مُستَحسَن دي. او د لـمانځه نه بهر د سورة د مينځ نه که د تلاوت ابتداء اوکړے شي نو "بِسْمِ الله" وَئِيل مُستَحَب دي او د سُوْرَةُ التَّوبَة د مينځ نه د شروع کولو هم دا حکم دے. (فتاوٰي فيضِ رسول)

## بِسمِ الله وَئيل کله کُفر دے

د **حرام** او ناجائز کار نه مخکښې بِسْمِ الله بالکل، بالکل او بالکل وئيل نه دي پکار په "فتاوٰی عالـمګيری" کښې دي چې د شرابو څښلو په وخت کښې، د زِنا کولو په وخت کښې يا د جُوارئ کولو په وخت کښې بِسْمِ الله وئيل کفر دے. (فتاوٰي عالمګيري ج۲ ص۲)

## د کچه پياز خوړلو وخت کښې بِسْمِ الله مه وائئ

فتاوٰي فيضُ الرّسُول جلد 2 صفحه 506 کښې دي چې: د چيلم، بيړي [په يوه پاڼره کښې ئې تماکو اچولې وي د دي د څښلو او د]، سګريټ څښلو او (کچې) اُوږه او [کچې] پياز په شان څيزونه خوړلو وخت کښې او د نجاست په ځائے کښې بِسْمِ الله وئيل مکروه دي.

احکامِ شَرع پر مجھے دے دے عمل کا شوق
پیکر خلوص کا بنا یا ربِّ مُصطفٰے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**اے عاشقانِ رسول!** خپله دُنيا او آخِرت ښائِسته کولو او د رَب رضا حاصِلَوَلُو دَ پاره د عاشقانِ رسُول مدني تحريك د "**دعوتِ اسلامي**" ښکلي ښکلي دِيني ماحول سره ترِلي اُوسئ او عاشقانِ رسول سره د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنّتونه زدَه کولو د پاره مدني قافلو کښې د سُنّتو ډك سفَر کوئ او په حقيقي معنو کښې عاشقِ رسول او نيك مسلمان جوړيدلو د پاره د "**نيك اعمال**" رساله [کښې هره ورځ د خپلو اعمالو د جائزے اخستلو په ذريعه خانے] ډکوئ. اَلْحَمْدُلِلّٰه! شيخِ طريقت اَمِيرِ اهلِسُنّت حضرت علامه محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د نيك مسلمان جوړيدلو د پاره د نيکئ کوَلو او د ګناهونو نه بچ کيدلو والا ډيرو اعمالو باندې مشتمله رِساله عطا کړې ده او په هغې کښې سوال نمبر 46 کښې د "هر جائز کار" نه مخکښې د "بِسْمِ الله" شريف وئيلو ترغيب هُم موجود دے. **الله** پاك دِ مونږ ته په سنّتو باندې د عمل کولو، او نورو ته د سُنّتو زده کولو او د نيکئ دعوت عام کولو توفيق رانصيب کړي.

**اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

کروں بے لوث خدمت سنتوں کی شہا گر لُطف مجھ پر آپ کا ہو
میں مدنی قافلوں ہی کا مسافر رہوں اکثر کرم ایسا شہا ہو

## د دارُالافتاءاهلِسنّت يَوه اَهَمه فتوٰي

څه فرمائي علماءِ دِين و مُفتيانِ شرع متِين د دِې مَسئَلے مُتعلّق چې نن صبا کورُونو کښې اَتيچ باتهرومونه وِي او په هُم هغې کښې خلق اَودس کوي سوال دا دے چې د اودس کولو نه مخکښې داسې اتيچ باته کښې بِسْمِ الله شريف او نورې د اودس دُعاګاني وظائف وئيلے شي او که نه؟

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْجَوَابُ بِعَوْنِ الْمَلِكِ الْوَهَّابِ اَللّٰهم هِدَايَةَ الْحَقِّ وَالصَّوَابِ

عام طور د دَاسې باتهرُوم اَو تواِئلټ په مينځ کښې ديوال، يا څه غته دَروازه وغيره داسې نه

وي چې د هغې په سبَب دواړه جُدا جُدا اوشميرلے شي لِـهذا په داسې اَټيچ باتهرُوم کښې د اودَس کوَلو نه مخکښې بِسۡمِ الله وَئيل يا د اودَس په مينځ کښې دُعاګانې او وظائِف نه شي لوستلے او که اټيچ باتهروم داسې وي چې د ټوائلټ او باتهروم په مينځ کښې څه ديوال، دروازه، يا د اُوسپنې يا لرګي څادر، يا شِيټ اولګولے شي چې ټوائلټ او باتهروم بيل بيل شي نو بيا په باتهروم [يعني د لامبلو په ځائے] کښې د اودس کولو وخت کښې ذِکر و وظايف او دعاګانې لوستلے شي ځکه چې دا بيا د نجاست ځائے نه دے.

وَاللّٰهُ اَعۡلَمُ وَرَسُوۡلُهٗ اَعۡلَم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نیک او لمونځ گزاره جوړېدو د پاره

هر زیارت د مابام د لمانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کیدونکي د دعوتِ اسلامي د سُنّتونو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نیّتونو سره ټوله شپه تیروئ ● د سُنّتونو د تربیت د پاره مَدَني قافلو کښې عاشقانِ رسول سره هره میاشت د درېو ورځو سفر او ● هره ورځ د "فکرِ مدینه" په ذریعه د مَدَني انعاماتو رساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځائے ذمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِن شَآءَ اللّٰه عزوجل. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافلو" کښې سفر کول دي. اِن شَآءَ اللّٰه عزوجل





فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدینه (کراچي)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com